عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۳/۰۳

# د تاريخ ناسمې کليشې

د تاريخليکنې له کمزوريو يوه دا هم ده، چې ځينې کليشې په ناسمه بڼه په خلکو کې عامې او دومره مشهورې شي، چې ځينې لوستي او له تاريخ باخبره وګړي يې هم مني.

**بېلګه:**

په افغانستان کې دا مشهوره شوې ده، چې ګواکې جاپان و افغانستان پر يوه کال خپلواکي اخيستې، اوس نو جاپان ګوره اومور !

د جاپان او افغانستان د پرمختګ زمکه و اسمان توپير پر خپل ځای، خو دا سمه نه ده، چې جاپان دې هم پر ۱۹۱۹ ميلادي کې خپلواکي اخيستې وي.

د افغانستان د خپلواکی په زمانه کې جاپان يو ځواکمن هېواد و. په ۱۸۸۹ميلادي کې دغه هېواد مشروطه نظام ته مخه کړه او تر ۱۹۱۲ پورې د (ميجي) تر مشرۍ لاندې يې چټکه صنعتي - اقتصادي او پوځي وده وکړه، تر دې چې د دواړو نړيوالو جګړو پر مهال د نړيوال ځواک يو مهم لوری و. جاپان پر ۱۹۴۵ ميلادي کال د هيروشيما او ناګاساکي تر خونړيو اتومي بمباريو روسته امريکا لاندې کړ.

**بله بېلګه:**

د افغانستان سکتاريستو دوښمنانو کليشه تراشلې، چې د افغانستان نوم نوی دی، څوک يې د اعليحضرت شاه امان الله په دوره پورې تړي، څوک يې د اميرعبدالرحمن خان او ځينې يې هم د احمدشاه بابا په دوره کې راجوړ شوی نوم ګڼي. څه سکتاريستان دغه نوم د انګريزانو له خوا جوړ کړل شوی نوم ګڼي.

په دې ورځو کې د دغو غلطو کليشو نغارې بيا ډېرې ډنګيږي او زه مجبور شوم، يو ځل بيا مستند وليکم، چې افغانستان د يوې سياسي (د دولتونو خاوندې) جغرافيې په توګه تر احمدشاه بابا ګڼې پېړۍ زوړ هېوادنی نوم دی.

هو!

بېشکه، چې ستر احمدشاه بابا په افغانستان کې د معاصرې ملي سترواکمنۍ بنسټ کېښود، افغاني اېمپراتوري يې جوړه کړه او د تاريخي افغانستان هغه برېدونه يې راخپل کړل، چې د تاريخ په اوږدو کې د څنګ و ښټ يرغلګرو تولواکمنيو لاندې کړي وو.
د افغانستان برېدونه په بېلابېلو تاريخي دورو کې کوښني يا پراخ شوي دي او دا په منځنۍ او لرغونې زمانه کې د هرې اېمپراتورۍ يا هېواد ځانګړنه وه.
د روم، پارس، عثماني ترکيې، هيندوستان او ګڼو نورو اېمپراتوريو بېلګې زموږ په مخ کې دي.
افغانستان د دولت يا کوښنيو واکمنيو د يوه خاوند هېواد په توګه د سيف بن محمد بن يعقوب هروی (سيفي هروي) په «تاريخنامۀ هرات» کې څو ځايه ياد شوی دی.
[لاندې يې د بېلابېلو پاڼو مستند عکسونه کتلای شئ، چې د افغانستان يادونې په ښندو کې د سرو ټکيو په مرسته نښه شوي دي.]

د تاريخنامه هرات د ليکوال د يادوونو له مخې دغه کتاب په ۷۲۱ قمري/ ۱۳۲۱ميلادي (د ملک غياث الدين واکمنۍ) کې پای ته رسېدلی. او دا کال د احمدشاه بابا تر واکمنۍ (۱۷۴۷ميلادي) ۴۲۶ کاله وړاندې دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

سيفي هروي افغانستان څنګه يادوي؟

په ۱۱۵ مخ کې ليکي:

"له خراسان او تورکستان غرونو، شبورغان تر افغانستان پورې پنځوس زره کسان پياده او سواره هرات ته راغلل "...

په ۲۸۱ مخ کې ليکي

"د افغانستان ټول خلک، کلاګاني او زمکې د هيند و سند تر بريدونو پورې"...

په ۲۸۲ مخ کې :

..."د خراسان ملکان او د افغانستان جماهير "...

بيا په ۲۸۳ مخ کې :

"مګر چې خبر شوم د افغانستان له واليانو او د هغوی له کلاګانو سره څه پېښ شول، بېرته راوګرځېدم"...

او بالاخره په ۶۲۶ مخ کې د افغانستان حدود داسې راپېژني :

"له هرات څخه بيا د ټول افغانستان تر بريدونو او د آمو تر حد پورې"...

اوس نو په دې اړه بايد د تاريخ ټولې غلطې، غرضي او دوښمنانه کليشې پر اوبو لاهو شي، چې تر احمدشاه بابا څلورنيمې او تر انګريز او نومهاليو واکمنو اته - نهه پيړۍ پخوا افغانستان داسې هېواد يادشوی، چې لښکر يې درلود، واکمنانو يې د سيمې په واک و ځواک کې ونډه درلوده، کلاګاني او بالاحصارونه يې لرل، جماهير يې يادېدل، هغه هم په داسې مستند و لومړي لاس کتاب کې چې په صحت و دقت کې يې هېڅوک شک نه کوي.



مرد* و ساز نبرد طلبید. به اندک روزگاری از حدود [۷۷] خراسان و نواحی جبال ترکستان و شبورغان[1] تا افغانستان قُرب بنجاه هزار مرد از بیاده و سوار به هرات آمدند و در شهر ملک مبارزالدّین و خواجه فخرالدّین و دیگر اعیان و اکابر مستعد حرب شدند و با هم عهد و میثاق بستند که به هیچ سبب از اسباب کسی از ارباب و اصحاب و تنی از شیخ و شاب خلاف ننماید و بر موجب «قاتِلُوا[2] المُشْرِکینَ کافَّةً»[3] تا جان دارد با زمرهٔ ملاعین و فرقهٔ بی‌دین بکوشند، و چون کَرّتِ اوّل دورنگی و بی‌سنگی ظاهر نکنند.

ایلجیکدای نوبین بعد از یک ماه دروازه‌ها را بر امرای سپاه بخش کرد و بر هر جانب شهر سی هزار مرد بفرستاد و حکم فرمود که «هر که در جنگ و آهنگ فتور و کاهلی و قصور و بددلی بیدا گرداند، به زخم تیغْ‌جهان بر وی چون شب دیجور گردانم، و آنک در محاربتْ مبادرت نماید و در معنیِ اَلْاِقْدامُ قَتّالٌ تأمّل نکند و پیش از موت و فوت صَیْتِ صوتِ

شعر

مائیم که کر سر برود غم نخوریم — بی‌خون عدو ز آب یک دم نخوریم

به گوش هوش همگنان رساند، به تشریف خاص ما مخصوص گردد و به صفات پیشوائی موصوف شود». چون کار سپاه بدین احکام و مواعید مقرّر گشت، روز دیگر ایلجیکدای با چندان سپاه کینه‌خواه

شعر [مؤیّد نسفی]

همه دلاور و رزم‌آزمای و خون‌آشام
همه مبارز و نیزه گذار و تیرانداز
همه چو رستم و چون سام کین‌کش و جنگی
چو گیو و چو گودرزْ پر دل و جانباز

از چهار طرف شهر جنگ در پیوست و مبارزان هرات قدم ثبات بنمودند [۷۸] و بر امید درک دَرَجات و سعادات و نیل مَبَرّات و حَسَنات و محو خَطَیات و سیّئات از دروازه‌ها با نیزه‌ها بیرون آمدند و جمله حمله کردند و به یک بار با چندین هزار کافر

* . اصل: مدد
۱ . و در صفحات آتی: شیوارقان، شیوارکان، شافورکان.
۲ . اصل: اقتلوا.
۳ . قرآن، توبه / ۳۶ «و با مشرکان همگی کارزار کنید».



شعر [مسعود سعد]

نه‌خورشید را سوی بالای او [سر؟]* — نه اندیشه را سوی پهنای او در
به بالاش پیوسته افلاک و انجم — به دامانش پنهان شده خاور و خور

در محاذات کمینه منازل او کوه بیستون کم از ستونی نمودی و در جنب کهینه پارهٔ بارهٔ او الوند کوه چون برگ کاهی بود[ی]*.

شعر [نظامی]

کوه بُد بیش او کم از کاهی — مرغ را سوی او نَبُد راهی
اوج او را ندید جشم مَلَک — زانک بُد بر فراز هفت فلک
بود خلقش ندیم زُهره و ماه — وز نهانهای آسمان آگاه

و چون به هشت فرسنگی بکر رسید، حسن علمدار را با پنج سوار نامدارِ سخنکویِ حاضر جوابْ به اسم رسولی بدان قلعه فرستاد و گفت «سلام و پیام من به مهتر این قلعهٔ آسمانْ‌نمای و والی این طایفهٔ عالی نژاد[1] رسانید و بگوئید که چند سال شد که ما با لشکرهای منصور در این سر حدّ متوطّن‌ایم. تمامت اهل قلاع و بقاع افغانستان تا حدّ سند و هند بعضی رغبةً و اختیاراً و قومی قهراً و قسراً به خراجگذاری و فرمانبرداری ما به دم و قدم آثار خدمت به اظهار رسانیدند.

شعر

تَکادُ مَمٰالِکُ الْآفاقِ شَوْقاً — تَصیرُ اِلَیَّ مِنْ کُلِّ النَّواحِیَ

خواست بودند پادشاه‌ها کران‌های دنی از برای آرزو
که بگردند به سوی من از هر سوئی [۲۵۲]

و به سمع تو رسیده باشد که به چه نَسَق به زخم خنجرِ ذوالفقارکُهرِ جگرْ درِ آذرْ اثر سرهای سرکشان با تَعَنُّد و تَکبُّر را از بدن‌های فیل پیکر شیر منظر در خاک و خون انداختم و به بادکوپالِ تهمتنی بهمنیِ جِهِل منی، آتشِ منایا و بلایا در مَهَجات دشمنان خاکسار زدم.

شَقَقْتُ بِقَمْقامِ الَّذي يُهْرِقُ الدِّما — رُؤوسَ الْاَعٰادی یَوْمَ حَرْبٍ وَحَرْبتِ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و ولولئ